S/RES/2513 (2020)

ملګري ملتونه

# د امنیت شورا

وېش: عمومي
۱۰ مارچ ۲۰۲۰

## ۲۵۱۳ (۲۰۲۰) پرېکړه لیک

**د امنیت شورا په ۸۷۴۲ مه غونډه کې د ۱۰ مارچ ۲۰۲۰ تصویب شو**

*د امنیت شورا،*

د افغانستان په اړه د خپلو پخوانیو پرېکړه لیکونو په یادونې سره، په ځانګړې ډول ۲۲۵۵ (۲۰۱۵)، ۲۳۴۴ (۲۰۱۷)، ۲۴۸۹ (۲۰۱۹)، او ۲۵۰۱ (۲۰۱۹)، پرېکړه لیکونو او همدارنګه د ۲۰۱۸ کال د جنوري د میاشتې په ۱۹ نېټه د امنیت د شورا د رئیس لخوا بیان (S/PRST/2018/2)،

د ملګرو ملتونو پر ارزښتناکه، یو ځای د خپل د مرستندوي پلاوي سره، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما)، ونډې باندې په ټینګار سره، چې په افغانستان کې د سولې او ټیکاو د ترویج لپاره خپلې ونډې ته به دوام ورکوي،

د افغانستان د حاکمیت، خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي یووالي په اړه د خپل قوي ژمنې او د یوه سوله ییز، باثباته او سوکاله افغانستان لپاره د خپل ملاتړ په به بیا تاییدولو سره،

د تلپاتې سولې او د جګړې د ختمیدو لپاره د افغانانو د پراخې او د زړه له کومې غوښتنې په تاییدولو سره، او د دې خبرې په تصدیق سره چې د تلپاتې سولې پروسه یوازې د افغانانو تر مشرې او د افغانانو د مالکیت له لارې ترلاسه کیدای شي، چې د یو ټول شموله او د خبرو پر بنسټ سیاسي حل ته منجر شي،

د مصالحې او پخلاینې د پرمختګ لپاره د چټکو هڅو په هرکلی کولو سره، او په افغانستان کې د سولې، پخلاینې، او پرمختګ د ملاتړ لپاره، د افغانستان د ټولو نړیوالو او سیمه ییزو همکارانو هڅو د دوام او هڅولو په هرکلی سره،

د امریکا او طالبانو تر منځ د خبرو اترو او همدا رنګه د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت سره د سلا مشورو وروسته چې له املې یې په ټول هیواد کې د تاوتریخوالی په کچه کې کمښت راغلي، د سولې د خبرو اترو لپاره یوه مُمد چاپېریال رامنځته شوي، د خوځښت او تردد لپاره زمینه پراخه کړي، او د ملکي مرګ ژوبلې په کچه کې د کمښت لامل شوي په هرکلی سره، او د تاوتریخوالي په کمولو کې د پر له پسې هڅو د دوام پر اهمیت باندې په ټینګار سره،

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ظرفیت د لوړولو لپاره، په ځانګړې ډول د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه او همدارنګه د افغان ملي پولیس د ځواک چې د خپل هیواد د امنیت په ساتلو او د تروریزم په وړاندې د مبارزې په ډګر کې، د ملاتړ پر اهمیت باندې په اصرار سره،

له ځنډ پرته، د عام شموله بين الافغاني مذاکراتو د پيل لپاره د هڅو په هرکلی سره، چې موخه يې په افغانستان کې جګړې ته د پای ټکی ایښودل او یوه تلپاتې سولې تامينول او دا ډاډ تر لاسه کول دی چې افغانستان به بیا هیڅکله د نړیوال تروریزم لپاره خوندي ځای نه وي،

د طالبانو له خوا د تر سره شویو ژمنو چې، د القاعدي په ګډون، هیڅ یوې ډلې يا شخص ته به اجازه نه ورکوي چې د افغانستان د خاورې څخه د نورو هیوادونو امنیت ته ګواښ پېښ کړي، او دا ژمنه چې دوي، د ټولو خواوو په ګډون، په بين الافغاني مذاکراتو کې به ګډون وکړي، د سياسي حل لپاره بحث، او د دايمي او هراړخيز اوربند لپاره، د ګډو میکانیزمونو د پلې کولو په شمول، د نېټې او څرنګوالي په اړوند موافقه وکړي، په هر کلی سره،

د دې موضوع پر اهمیت باندې په بيا ټينګار سره چې ډاډ ترلاسه شي تر څو د افغانستان خاوره د القاعدې، داعش يا نورو نړیوالو تروریستي ډلو لخوا به نکارول کیږي چې نورو هيوادونو ته ګواښ پېښ کړي او يا پر بل هيواد برید تر سره کړي، او همدارنګه نه طالبان او نه کومه بله افغاني ډله او يا شخص هغو تروریستی ډلو ته ملاتړ تياروي چې د کوم بل هيواد په خاوره کې فعالیت کوي؛

د نړۍ د نشه يي توکو د ستونزي په وړاندې د ټول افغاني ډلو او خواوو له خوا د بېړنې مبارزې د اړتيا، پدې موخه چې په افغانستان کې د توليد شوي ترياکو د قاچاق سره مبارزه وشي، په پوهيدو سره؛

د دې خبرې په يادولو  سره چې د افغانستان اسلامي امارت د ملګرو ملتونو له خوا به په رسميت و نه پيژندل شي، او همدارنګه د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د افغانستان د اسلامي امارت د بيا احياء ملاتړ نه کوي،

۱. د جګړې د پای ته رسولو او د بين الافغاني خبرو اترو لپاره د دروازې د پرانيستلو په لور کوټلې ګامونه، چې د افغانستان اسلامي جمهوريت او د امريکا د متحده ایالاتو ترمنځ افغانستان ته د سولې د راوستلو په اړوند د ګډې اعلامېې (ګډه اعلاميه) (S/2020/185 چې د دې پریکړه لیک د الف ضميمې په توګه ضميمه شوي) او افغانستان کې د سولې د راوستلو په اړوند د امريکا د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ تړون (تړون) (S/2020/184 چې د دې پریکړه لیک د ب ضميمې په توګه ضميمه شوي) له امله څواکمنې شوي دي، هر کلی کوي؛

۲. د ملګرو ملتونو او نړيوالو او سيمه ييزو شريکبانو د سولې د داعيی او د يو شمېر هيوادونو ليوالتيا چې غواړي د سياسي حل، او د تلپاتې او هراړخېز اوربند د ترلاسه کولو لپاره د بين الافغاني مذاکراتو د تسهيل لپاره کوربه وي، په ګډون، د دوامدارې او د پام وړ ملاتړ ستايي او هڅوي؛

۳. د يو ټول شموله سياسي حل او د دايمي او هراړخيز اوربند او د بريالي مذاکراتو لپاره د ټول افغان ډلو او خواوو هدف او مقصد هرکلی کوي، د ګډې اعلامې او تړون په پام کې نيولو سره؛ د ښځو، ځوانانو، او د اقليتونو د اغيزمن او معنی داره ګډون پر اهميت ټينګار کوي، او تاييدوي چې هر ډول سياسي حل کې بايد د ټول افغان وګړو، د ښځو، ځوانانو او لږکيو په ګډون، د حقونو ساتنه وشي، او د تلپاتې سولې او سوکالی د ترلاسه کولو لپاره د افغان وګړو د قوي ارادې درناوی وکړي، او د قانون د حاکميت رعايتول، نړيوالو مکلفيتونو ته د افغانستان درناوی، او د ټول شموله او  حساب ورکوونکې حکومتولی د ښه کولو په ګډون، په اقتصادي، ټولنيز، سياسي برخو کې او همدارنګه د ۲۰۰۱ کال راهيسې د پرمختيايي لاسته راوړنې د پايښت او دوام په اړوند د افغان وګړو پياوړې هيلو ته ځواب ووايي؛

۴. د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت څخه غواړي چې، په بين الافغاني خبرو اترو کې، د ښځو په ګډون، د ټول شموله او د افغان سياسي او مدني ټولنې د مشرانو څخه جوړ شوی مرکچې ډلې په تشکيلولو سره د سولې بهېر ته خوځښت ورکړي؛

۵. د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او طالبانو باندي غږ کوي چې په نېک نيتۍ او د لا زيات باور په ايجادولو سره د خبرو د چټک پيل او د بين الافغاني خبرو اترو او پايداره سولې لپاره، د ملکي تلفاتو په شمېر کې د کمښت لپاره، په ځانګړې توګه د ماشومانو تلفات، په تاوتريخوالو کې د لا زيات کموالي په ګډون، د هر اړخيز او دايمي اوربند، او همدارنګه د بنديانو د

خوشې کولو په سر د تړون څخه مخکې، افغانستان ته د نړیوالو د لا زیات مرستو اجازه ورکولو لپاره د خبرو اترو مُمد چاپېریال رامنځته کړي؛

۶. پر ټولو دولتونو باندي غږ کوي چې د یوې هراړخیزې او پایدارې سولې تړون لپاره چې د ټولو افغانانو په ګټه جګړه پای ته ورسوي او همدارنګه سیمه ییز ټیکاو او نړیوال امنیت سره مرسته وکړي، خپل بشپړ ملاتړ چمتو کاندي؛

۷. د بین الافغاني خبرو اترو د پیل په اړه د ژمنې په صورت کې، د امنیت شورا ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) ګڼې پریکړه لیک مطابق او همدارنګه د امنیت شورا د نورو پریکړه لیکونو سره سم، د تغزیراتو په ترتیب شوی او ساتل شوی لست/نوم لړ کې د اشخاصو، ډلو، شرکتونو او نهادونو پر وضعیت باندي د بیا کتنې امکان ته خپل چمتووالی څرګندوي تر څو د سولې پروسې څخه ملاتړ شوي وي، او د ټولو هیوادونو څخه غوښتنه کوي چې پرته له ځنډه ملي بیاکتنې ترسره کړي، د دې خبرې په پام کې نیولو سره چې د طالبانو عمل، او یا نه عمل تاوتریخوالی به نور هم کم کړي، د بین الافغانی خبرو اترو د پرمختګ لپاره دوامداره هڅې وکړي، او یا تعامل بندوي او یا د داسې فعالیتونو ملاتړ کوي کوم چې د افغانستان د سولې، ټیکاو او امنیت ته ګواښ پېښوي، چې په دغه صورت کې د بیاکتنې پروسه به اغیزمن کړي؛

۸. د نړیوالې ټولنې لخوا د دوامدار ترسره شوي کار له امله خوښې څرګندوي چې د افغانستان ټولو سېمو ته د بشرپالنې او پراختیایي مرستو درسولو کار ته په دې موخه تیاري نېسې چې د بشري مرستو اړتیاوو ته رسیدګې وکړي، مصالحه او پخلاینه ترویج کړي، او د سولې ګټې پراخې کړي، همدارنګه د سیمه ییزې پراختیا په موخه د سیمه ییزو همکاریو د هڅو هرکلی کوي، او د افغانستان د بیارغونې لپاره د نړیوالې او سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ پر اهمیت ټینګار کوي؛

۹. له عمومي منشي څخه غوښتنه کوي چې د افغانستان په اړه خپل په راپورونو کې، لکه څنګه چې د ۲۴۸۹ (۲۰۱۹) ګڼې پریکړه لیک په ۹ ماده کې غوښتنه شوی ده، په همدې پریکړه لیک کې د یاد شویو هڅو په اړوند، تر لاسه شوي پرمختګونه شامل کړي؛

۱۰. پریکړه کوي چې په فعاله توګه موضوع د خپل کار په دستور کې وساتي.